# اي حکيمه! دا مال شين او خوږ دی

د حکيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه غوښتنه وکړه، هغه ماته (یو څه) راکړل، بیا مې غوښتنه وکړه، بيا يې راکړل، بيا يې راته وفرمايل: «اې حکيمه! دا مال شين او خوږ دی، چا چې د نفس د سخاوت له مخې واخيست برکت به ورته پکې واچول شي، او څوک چې دا په حرص سره واخلي برکت به ورته پکې وانه چول شي، او د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړېږي، او د پورته لاس خاوند (ورکوونکی) د ټيټ لاس له خاوند (غوښتونکي) څخه غوره دی» حکيم وويل: ما وويل: «اې د الله رسوله! قسم په هغه ذات چې ته يې په حقه رالېږلی يې، ستا څخه وروسته به له هېچا څخه څه شی ونه غواړم، تر څو چې له دې دنیا لاړ شم (وفات شم)» نو همغه و چې ابو بکر رضي الله عنه به حکيم ته د صدقې ورکولو هڅه کوله، خو حکيم نه منله، بيا عمر رضي الله عنه ورته وړاندیز وکړ، له هغه يې هم ونه منله، بيا هغه ټولو مسلمانانو ته وفرمايل: «زه ورته د هغه د حق مال وړانديز کوم چې الله تعالى ورته په غنيمت مال کې ټاکلی دی، خو هغه يې نه اخلي» نو حکيم له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه وروسته له هېچا څه ونه غوښتل تر دې چې وفات شو، الله دې پرې ورحمېږي.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

حکيم بن حزام رضي الله عنه له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د يو څه مال او متاع غوښتنه وکړه، نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم ورته ورکړ، بيا يې غوښتنه وکړه، بيا يې ورکړه، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: اې حکيمه! دا مال خوښ او مطلوب دی، چا ته چې پرته له سوال کولو ورکړل شو او له زاړ پرته يې په مړه خوا واخيست، برکت به ورته پکې واچول شي او چا چې د حرص او تمې له مخې واخيست برکت به ورته پکې وا نه چول شي او د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړېږي، او پورته لاس چې ورکړه کوي د الله تعالی په نزد له ښکته لاس (سوال کوونکي) څخه غوره دی، حکيم وويل: ما وويل: اې د الله رسوله! قسم په هغه ذات چې ته يې په حقه رالېږلی يې، ستا څخه وروسته به له هېچا د مال غوښتنه ونه کړم تر څو چې له دنيا څخه لاړ شم. نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم خليفه ابو بکر رضي الله عنه به حکيم ته بلنه ورکوله ترڅو ورسره مرسته وکړي، خو هغه به يې له اخيستلو انکار کاوه، بيا امير المؤمنين؛ عمر رضي الله عنه هم ورته وړانديز وکړ چې يو څه ورکړي، خو هغه يې له اخيستلو انکار وکړ، عمر -رضي الله عنه- وويل: اې د مسلمانانو ټوليه! زه هغه ته هغه برخه ورکوم چې الله ورته د غنيمت (فيء) له مال څخه ټاکلې ده، (هغه مال) چې مسلمانانو له کافرانو پرته له جګړې او جهاد څخه ترلاسه کېږي، خو هغه يې له اخيستلو انکار کوي، نو حکيم د مرګ تر ورځې پورې له هېچا څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه وروسته د څه شي غوښتنه ونه کړه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3703

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee